مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

ليکوال: ځېرندوی حبيب الله رفيع
راژباړونکی: احسان الله ارينزی

۲۰۲۴/۰۵/۱۱

# غازي محمد جانخان

## د اولس په زړونو او د اولس په سندرو کې

## وردګ د تاريخ په بهير کې سيمينار

### شلمه مقاله

د امريکې يو د ملتونو ځېړونکی عالم (اي، اف، کې، اورګانسکي) په خپل (د نړۍ سياست) نومي کتاب کې ليکي:
(سيام او افغانستان د نړۍ يواځيني هېوادونه دي چې هېڅکله د سياسي ښکېلاک تر ژغ لاندې نه دي تللي او د اروپايانو مستقيمه واکمني يې نه ده منلې.)(۱)
دا سمه ده خو زه دا هم پرې زياتوم چې د هيڅا واکمني يې نه ده منلې او د هر يرغلګر پر وړاندې يې پاڅون کړی او په لنډه يا اوږده موده کې يې مات کړی او له خپلې خاورې ايستلی .
دا هم د يادولو ده چې په نړۍ کې تر هر هېواد زيات پر افغانستان زيات يرغلګر راغلي دا ځکه چې افغانستان د آسيا په زړه کې يو حساس جغرافيايي، سوق الجيشي او ستراتيژيکي موقيعت لري او هر چا چې غوښتي د هند نيمي و چې ته ورشي او دا طلايي مرغۍ تر لاسه کړي او يا د پارس او منځني ختيځ ثروتونو ته ځان ورسوي، د تېرېدو لاره يې همدا وه خو ټول همدلته راتم کړی شوي او د تېرېدو هيله يې نهيله شوې ده.
له پنځو زرو کلونو راهيسې دا لوبه را روانه ده او زموږ د دې اوږده ژوند نيمايي برخه په دې جګړو او مقابلو کې تېره شوې او زموږ ودان هېواد په وارو- وارو وران شوی، بيا ودان او بيا - بيا وران شوی دی.
اوس راځو دې ته چې دا څنګه معجزه ده چې افغانستان له دومره تېريو سره-سره ژوندی پاتې شوی او پر يرغلګرو يې برۍ موندلې دی.
زما له نظره ددې امتياز لوی علت د افغانستان د زړور، نوميالي او توريالي ملت درلودل دي چې د هر تېري کوونکي پر وړاندې ولاړ شوی او په تش لاس يا ډېرو لږو نظامي امکاناتو يې له زورور او په وسلو او درنو نظامي امکاناتو سنبال دښمن سره مقابله کړې او له پښو يې غورځولی دی.
ما په دې برخه کې اوږده مطالعه کړې، د نړۍ ډېر پياوړي او د درنو نظامي امکاناتو درلودونکي هېوادونه چې کله د يرغلګرو تر تېري لاندې راغلي، حکومت او دولتي پوځ يې له دښمن سره مقابله کړې خو کله يې چې دولتي ځواک مات شوی نو يرغلګرو په سړه سينه دا هېواد نيولی او ملت يې تيت او پرک شوی او نه دی توانېدلی چې مقابله وکړي نو له ناکامه تسليم شوی او د يرغلګرو د ښکېلاک ژغ يې وړی، ډېرې لږ داسې نمونې پيدا کيږي چې په اولس کې دې کوم هېرو او اتل پيدا شوی وي او د يرغلګرو پر وړاندې دې اولس يو لاس او يو غږ شوی وي.
پر افغانستان باندې د يرغل په ترڅ کې نړيوالو ښکېلاکګرو له همهغو تجربو نه کار اخيستی او پر افغانستان باندې يې له يرغل سره حکومت ړنګ کړی او يا مزدور کړی، دولتي پوځ او خزانه يې تر لاسه کړې او بيا يې فکر کړی چې نور به بې غمه پر دې هېواد واکمني کوو او له اولس نه يې د وېرې احساس نه دی کړی.
خو زموږ د اولس يوه عجيبه ځانګړنه ده، کله يې چې مرکزي حکومت ړنګ شوی ، يا مزدور شوی او يا پردي حکومت جوړ شوی نو اولس بې له دې چې مخکينی مسلات ولري، خپله ملي دنده ګڼلې چې د خپل هېواد د آزادۍ او خپلواکۍ له پاره را ولاړ شي او په خپله سيمه او خپله برخه کې د دښمن او يرغلګرو پر وړاندې مقاومت او مزاحمت پيل کړي.



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

په دې لړ کې د هېواد له لېرې پرتو کليو او سيمو نه وړې-وړې ډلې راولاړې شوې، يو له بل سره يې اړيکې نيولې، منظمې شوې او د ملي مسلات له مخې يې ورو-ورو يو ملي لښکر جوړ کړی او د حکومت تر مرکز چاپيرې شوې، دښمن يې محاصره کړی او بيا يې له مزدور حکومت سره يو ځای د خپل قهر په اور کې سوځولی او مات کړی. دا کار يو ځل نه بلکې دايم او د هر يرغلګر پر وړاندې شوی او همدا ملي مقاومت، ملي لښکر او ملي پيوستون دی چې د تاريخ په هره پېړۍ او پوړۍ کې يې هر راز زورور او ښکرور دښمن مات کړی او له ناسنجول شوې ماتې سره مخامخ کړی دی.
دلته يو بل مهم ټکی هم د يادولو دی، هغه دا چې له مرکز نه د باندې ملي کړيو سره په مرکز کې د ننه هغه مامورين او دولتي ارکان هم په پټه کې مله شوي چې ظاهراََ له دښمن سره د مرستې سرخوځوي او ځانونه يې مله بولي او دې ګډې همکارۍ د دښمن ځواک له د ننه او بهر کمواکه او کاواکه کړی او په پای کې يې رانسکور کړی دی.
له زړو زمانو نه تېرېږو په معاصرو پېړيو کې نمونې ورکوو:
د اتلسمې پېړۍ په پيل کې چې د هېواد لويديځې سيمې د پارس د صفوي يرغلګرو په لاس کې وې او د ګرګين په نامه يې يو ظالم او خونخور والي کندهار ته رالېږلی ړ، ميرويس نيکه د اولس د نماينده په توګه له دې والي سره په ارتباط کې ړ او صفوي حکومت هم رسماََ د ملت د استازي په توګه منلی ړ، ده د ورځې له هغوی سره په ارتباط کې کار کاوه خو نور وخت به يې خپل خلک تنظيمول، د قومونو مشران به يې راغونډول او يو وخت يې مصلحتي بغاوتونه او سرغړونې راولاړې کړې او ګرګين ته يې مشوره ورکړه چې د دې سرغړونو د کوټلو له پاره خپلې لښکرې ورولېږي او کله چې د ده لښکرې خورې او لږ شوې نو بيا يې له يوې نظامي خدعې نه د تکتيک په توګه استفاده وکړه او ګرګين يې سره له ملګرو په يوه ميلمستيا کې وواژه، د هېواد د يوې برخې بشپړه خپلواکي يې تر لاسه او د لومړي ځل له پاره يې په نړۍ کې ملي او جمهوري حکومت جوړ کړ.
احمد شاه بابا د يوه جنرال په توګه، د هغه له وژل کېدو سره سم نظامي چارې سنبال او د يوې ملي جرګې له لارې واک تر لاسه کړ، د هېواد خپلواکي يې تامين او د هغې پر بنسټ يې تر ډيلي، ماوراءالنهر او مشهد پورې لويه افغاني ستروا‌کي جوړه کړه.
په ۱۸۳۹ کال کې پر افغانستان باندې د انګرېزانو د لومړي تيري په ترځ کې د وخت پاچا امير دوست محمد شمال ته وتښتيد، شاه شجاع انګرېزانو له ځان سره راووست د کندهار او بيا يې د کابل پر تخت کښېناوه، دولتي لښکر يې د ده په خدمت کې وګوماره او انګرېزانو د شاه شجاع په نامه په هېواد کې واکمني پيل کړه، خو ډېر ژر د هېواد په بېلا بېلو برخو کې ملي مبارزين سره راغونډ شول، اړيکې يې سره ونيول، غازيان د بېلابېلو قومونو په مشرتابه سره راغونډ او په پای کې يې د کابل په عاشقانو عارفانو کې خپل د قوماندې مرکز جوړ کړ او د ۱۸۴۱ کال د نومبر په دوهمه نېټه يې د عمومي پاڅون قومانده ورکړه چې د ۱۸۴۲ کال د جنورۍ تر شپږمې نېټې انګرېزان مات او د وتلو له پاره يې پناه وغوښته؛ خو اولس له کابل تر ننګرهاره د دوی اوولس زره لښکر تباه کړ، بيا يې د دوی ګوډاګی پاچا شاه شجاع هم وواژه او انګريزي ښکېلاک ته يې خاتمه ورکړه. په دې ترتيب حکومت له دښمن سره و؛ خو اولس د خپل ځانګړي خصلت له مخې بری وموند چې تر دې وړاندې له داسې مقابلې سره نه وو مخامخ شوي او لومړنۍ تاريخي ماته يې له افغان ملت نه وخوړله.
انګرېزانو دا ماته تصادفي او د افغانستان د سخت ژمي له امله بلله نو دېرش کاله وروسته يې په ۱۸۷۸ کال يو ځل بيا درنې لښکرې افغانستان ته راوستې، دا ځل هم د وخت پاچا امير شير علي خان د روسانو د مرستې په هيله شمال ته ولاړ او دوی د دې زوی يعقوب خان د خپل لاسپوڅي پاچا په توګه وساته، دولتي خزانه او لښکرې يې هم تر لاسه کړې، دا ځل په اوړي کې راغلي وو او فکر يې کاوه چې نور نو په افغانستان واکمن شول، بيا هم له مرکز نه لېرې په شاوخوا کليو او سيمو کې د غازيانو ډلې جوړې شوې، غازي محمد جان خان چې په دولتي پوځ کې وو، له غازيانو سره اړيکې ټينګې کړې. د ورځې به يې خپله دنده تر سره کوله او د شپې به يې خلک پاڅون او قيام ته تنظيمول او د غازيانو رابطې به يې ټينګولې. څو يې چې تر مرکزه غازيانو يوه پياوړې حلقه راچاپېره کړه، انګرېزان يې د شيرپور په چوڼۍ کې محاصره او مات کړل، په ميوند کې يې تر لس زره زيات لښکر تباه شو او بيا اړ شول چې له هېواد نه په تېښته پښې سپکې کړي؛ خو دلته يو داسې حکومت راځي چې ظاهرا له غازيانو سره سر خوځوي خو په پټه له انګرېزانو سره تړون لري او د انګرېزانو په لمسون د غازيانو په لټون او له منځه وړلو بوختيږي.
زموږ د ملي مبارزو تاريخ دښمنانو سره له دې چې اعترافونه لري، په خپله ګڼه ليکلی، موږ ډېر لږ مړرخين درلودل چې ويې ليکي خو زموږ اولسي شاعرانو دا ټولې تاريخي پېښې په خپلو شعرونو، سندرو، چاربيتو او نارو کې په زېر او زور خوندي کړې چې خوله په خوله لېږدېدلې خو څرنګه چې ليکل شوې نه دي نو ځکه دا سندرې ډېرې هېرې شوې او لږ راپاتې دي، خو هغه سندرې چې همهغه وخت په ليک کې خوندي شوې، ډېرې ګټورې او ډېر دقيق او تارتاريز معلومات پکې دي.
ما د پښتنو له سوونو مبارزو سره اړوندې سوونه تاريخي نارې او سندرې راغونډې کړې چې بېله څېړنه او ځانګړي کتابونه غواړي.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

له نېکه مرغه د افغان-انګرېز د دوهمي جګړې سندرې چي غازي محمد جان خان يې لوی هېرو دی، همهغه وخت د يوه خواخوږي او دراک ختيځ پوه ډارمستټر له خوا په پېښور کي د لرې برې پښتونخوا ګڼو اولسي شاعرانو ويلي، غونډې کړي او همهغه وخت يې په فرانسه کي ژباړلي او له پښتو متن سره يې خپرې کړې چي بيا وروسته نورو ليکوالو هم دا ډول سندرې چي د محمد جان خان د مېړاني يادوني پکي دي راغونډې کړې او په لسهاو پارچې يې موږ ته رارسېدلي چي دلته يې څو نموني وړاندې کوم:

[لومړی چاربيته]

په دې لړ کي تر ټولو مشهوره هغه چاربيته ده چي ډارمستټر په خپل (د پښتونخوا شعر هارو بهار) کي د جنګ د کابل په نامه ثبت کړې ده، دا چاربيته همهغه وخت دومره مشهوره شوه چي په آلمان کي ايراني ليکوال سيف آزاد د آزادي شرق په جريده کي خپره کړه؛ نو د دې چاربيتي کسر يې د دې جريدې د لومړنی ګڼي په لومړي مخ کي خپور کړ، چاربيته سره لولو:

(کسر)

قادره ذوالجلاله بې شريکه، بې مثاله

ايمان مي خطا مه کړې فرنګ ورک کړې له کابله

(لومړی بند)

فرنګ راغی له هنده که راشي لوړه تنده

په هېڅ يې پروا مه کړئ

وطن ټول کاندي پايمال وهئ يې سر او مال

(دوهم بند)

خيبر کي اپريدي وو دوی واړه تور تندي وو

کاروان ته ګرندي وو

فرنګ ته يې ملامانه وه په خپله يې کړ راتېر

اسلام يې سپک کړ ډېر

(درېيم بند)

فرنګ وې چي سهار شو ناګامه ډزهار شو

اميرصاحب په خپله له غيرته زما جانه

فنا شو له جهانه

(څلورم بند)

مهمند لکه خزلي نه سر، نه يې سامان شته

غلجي وکړې منزلي ما کړي دي بدلي

نه په شمار کي حسابيږي الله په دوی پوهيږي

(پنځم بند)

که ټول په اتفاق وی په يو ځای کي اتراق وی

دېره په بشبلاق وی

فرنګو به لالپوره لاندي کړې نه وه وروره

خبر به وو له زوره

(شپږم بند)

چا کفر کړ قبول دولت يې کړ وصول

دښمن شو د رسول

پنځو پيسو د پاره له اسلام نه لاس په سر شو

تور مخی د محشر شو

(اووم بند)

چي مسلمانان يې مسلم په ښه ايمان يې

غزا پسي روان يې

له سر وماله تېر يې د حضرت د دين د پاره

ترس نه کړي له کفاره

( اتم بند)

محمد يعقوب يې زوی ړ کمکی نه ړ دی لوی ړ

دانا په عقل پوی ړ

روان يې کمناري کړ وريي کړ بالا حصار



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاریٔ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

يو ځو ورځې قرار
(نهم بند)
ناګاهه غلبله وه          اردله رساله وه
په مخ کې يې ګله وه
تمام يې را حصار کړل     په کابل يې کړ مردار
خبر نه ړ سردار
( لسم بند)
سردار شو په غضب        دا کار دی ډېر عجب
لښکر يې تمامي مرګونه    وکړه په دا شان
غازي محمد جان خان
(يوولسم بند)
محمدجانخان ورته ويل      په دا يمه قايل وهلی مي جاهل
د خپله لاسه ما د کمناری مری کړه غوڅه
چاړه مي کره پرې پڅه
(دوولسم بند)
چې ويې سو په اور       ښکاره (يې) کړ خپل زور
کمپنۍ ته لاړو شور
کمپنۍ شوه په غضب       نور يې ويل لاته راپېټه
څرګند څه مه په پټه
(ديارلسم بند)
راپېټ راغی په کورمه      بيا د کابل په څرمه
امان له داسي کِرمه
را پېټ لکه چنجی        د يعقوب خان وخوت په دل
ترې پاتي شو کابل
(څوارلسم بند)
محمديعقوب سلام ته      لاړ د راپېټ مقام ته
چې شا يې کړه اسلام ته
راپېټ بی ګناه ونيو       هندوستان ته يې کړ روان
بيا دی (شو) بنديوان
(پنځلسم بند)
کابل کې سرداران        ولاړ وو په سوران
بل پاتې شوه ياران
بادشاه يې زموږ بوتلو     چې محمد يعقوب يې نوم ړ
کمپنۍ (ته) چې معلوم ړ
(شپاړسم بند)
غزا ته يې کېښوه غاړه     حيران شو تمام واړه
هېچا ونه کړه آړه
په سر محمد جان خان ړ    صاحبزاده مشکِ عالم ړ
کمپنۍ باندې ماتم و
(اوولسم بند)
چې څوک دي داسي نر     چې جنګ وکړي حاضر
مردار کا دا مضر
غازي محمد جان خان ته   بری ورکړه فی الحاله
قادره ذوالجلاله
(اتلسم بند)
نن بيا له ډېره غمه      خلاص نه يم له ماتمه
د هجر له تورتمه
غنچه وه د ګلاب        خزان جدا کړه له غندله
زاري مي نشته بله


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

ایمان مي خطا مه کړې     فرنګ ورک کړي له کابله
زاري مي نشته بله
ډارمسټټر د دې چاربیتي د شاعر نوم نه دی اخیستی او د جلال آباد شاعر یي بللی، پروفیسر عبدالله خدمتګار اټکل کوي چي کېدای شي دا چاربیته د ننګرهار د بټي کوټ د (غریبی) نومي شاعر وي یا هم د کوم بل ننګرهاري شاعر!
**[دوهمه چاربیته]**
فرنګ لاړشه په قهر
اختیار کوي د جنګ
فوزونه یي کړه جمعه
په کابل کي شه حصار     خاوند که ته په تار
*     *     *
انګرېز شه ټول روان     د ځان کوي سامان
په زړه کي دي پنهان
خواس واخیستي بډې     د انګرېزو کوي ننګ
اختیار کوي د جنګ
خواص شه بدي خور     نه شرمیږي په پېغور
خېل خدای ته یي مخ تور
کمنري ته یي ویل     چي زه به ستا وکړم ننګ
اختیار کوي د جنګ
افریدو واخیستي بډې     ګرځېده به دوی په ډډې
د غازیانو لاړې کډې
دیوس پکي خواص دي     چي خپل ځان یي که بدرنګ
اختیار کوي د جنګ
خواص دی پکي ټک     پالي د کفر رګ
د غازیانو لوی دی غړ
شاباش په غازیانو     فوزونه یي کړه جمعه
خپله توره یي کړه محکمه
کمنري ته یي وکه لوظ     ترېنه وایي خیست ډېر فوز
ځني پاتي په جمروز
دی لاړ علي مسجد له     هلته کښېناسته بېغمه
فوزونه یي کړه جمعه
علي مسجد کي و لوی شور     د غازیانو به وه شور
فرنګي بد دی له اور
فرنګي وچلاوه باړ     علی مسجد یي که وزګار
خاوند که تار په تار
فرنګ وراندي شه تري تېر     له لنډي کوټ شه چاپېر
*     *     *
لنډیکوټ یي دیره کړه     ترېنه اخلي اوس قلنګ
اختیار کوي د جنګ
شینواري شو زهیر     دوی له رنګه دي قجیر
پرې نظر دی د لوی پیر
ملګري د اسلام دي     د ایمان کوي دوی تمه
فوزونه یي کړه جمعه
د شینوارو دی لوی قوت     رب ورکړي برکت
وي راځئ کوو غزا     زموږه نشته دی بل لار
خاوند که تار په تار
فرنګ ولاړ تر باسوله     دا خبره یي کوله
په ډکي یي خوځوله
ډکه یي کړله خپله     درته وایم په یو درنګ
اختیار کوي د جنګ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

له ډکي نه شه راوړاندي          ګندومک يي که د لاندې
د ټکی خبرې کاندې
لاټ ورکړلي روپی          چي اپريدي يی کړه بردمه
فوزونه يي کړه جمعه
لاټ روپی کړلي خورې          خلکو وکړې ننداري
د غازيانو سترګي سرې
ماړه يي افريدي کړل          چي خوري غوښي د مردار
خاوند که تار په تار
په فرنګيانو وه ضرور          لاټ وه په زړه رنځور
يعقوب خان يي شه تربور
يعقوب خان يي سلامي (که)          چي له خدای نه وه دا سمه
فوزونه يي کړه جمعه
غازيانو وکړله سلا          که ځوک پير دی که ملا
يا دوی تاسو الله
وي ابښني موږ سرونه          په نامه د پاک ستار
خاوند که تار په تار
فرنګ لاړ شه کابل          په زړه کي و دا غل
(په) يعقوب خان يي وکه چل
يعقوب خان ته يي ويل کمنري:          ځه ته اوس په ځنګ
اختيار کوي د جنګ
کمنري راغی په بېرته          حال يي ووې کمپشنر ته
قضا راغله زموږ سرته
کابل مي که اوس خپل          چي ترېنه زه کومه طمعه
فوزونه يي کړه جمعه
کابل له لاړشه دا دوبار          خلقه وکړئ پرې اعتبار
زه کوم دغه ګفتار
مړ يي کمنري که          چي کابل يې که وزګار
خاوند کړل تار په تار
د کمنری راغی رپوټ          فرنګيانو وکه کوټ
په انګرېزو شه پلپوټ
لاټ وکړ مصلحت چي          خپل فوز به کړم چورنګ
اختيار کوي د جنګ
خواص شه په لعنت          دا زوی دی د غلط
چاته نه ګوري اوچت
دښمن زموږ د دين          دی د هرچا دی ورته قار
خاوند که تار په تار
يعقوب خان (يي) ونيوه زما وروره    زر (يي) کوز که له لاهوره
د خاوند کارونه ګوره
شاباس په محمدجان شه          چي خپله توري کړې محکمه
فوزونه يي کړه جمعه
محمدجان وکړله توره          په هر ځای کي ده مشهوره
که خاوند (يي) کړي منظوره
راوي ښکله فرنګی يي له خيبره که باهر
خاوند که تار په تار
فرنګيان راغلل په ماتي          کولي به دوی زياتي
کابل شه له دوی پاتي
شاباس په محمد جان شه          چي مدام به وه خوشرنګ
اختيار کوي د جنګ
محمدجانخان ړ که مطلب          راضي ړ په دي رب



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

په هر ځای کې يې دبدب
خپه پرې فرنګيان شوه    سترګې ډکې دې له نمه
فوزونه يې کړه جمعه
فرنګيان راغلل زهير    هر يو وه په زړه غمګير
ورسره فوز د کشمير
پاياب جوړ که بيان داسې    بل ووايې ځوک اشعار
خاوند که تار په تار
**[درېيمه چاربيته]**
را جمع شوې لښکرې
په نيت باندې د جنګ
رواني شوې بالفور
جوړ يې که ګدام، ترلی لام، ځې برابر
کمنرې يې دی افسر
* * *
راجمع شو فوځونه    سواره پلی اې خونه
کابل ته روان شونه
په خيبر کې ميراخور    ورته ترخې وکړې خبرې
راجمع شوې لښکرې
ميراخور ورته محکم شه    په کمنرې باندې ماتم شه
خبر پرې ټول عالم شه
حيران په هغه ځای    اې خلکه ودرېده په ښنګ
هيڅ ويې نه کړ جنګ
په بېرته را روان شه    داخل په خپل مکان شه
دا کار په ده ډېر ګران شه
په چل ترې پوره نه شوه    اوس خبره شوه د زور
رواني شوې بالفور
خبر شه واټرفيل    قسم وکه سفيل
په تورات او په انجيل
کابل به هاله پرېږدو    چې انګرېز شي ټول تمام
جوړ يې که ګدام
لښکر يې بې حسابه    طلب که له پنجابه
وسلې له هره بابه
پلټنو ته يې ورکړې زر تر زر
کمناري يې دی افسر
* * *
لښکر يې که تيار    له عقل نه بهار
په امر د سرکار
رخصت يې که په کورمه  قطع يې کړې لوړې ژورې
راجمع شوې لښکرې
کابل ته چې ښکاره شو    خلک يې ټول په ننداره شو
هر ځوک په تراره شو
وې راځئ چې کډې واخلو    نن په زور کې دی فرنګ
په نيت باندې د جنګ
نن په زور کې دی انګرېز    هر چاته ګوري تېز
اوس موږ له دی په کار ترې ډېر پرهېز
اوس ځئ چې ځان په ښنګ کړو    بيا به راشو په هر لور
رواني شوې بالفور
اوس ځئ چې ځان سنبال کړو    د جنګ به هاله خيال کړو
انګرېز به ټول پايمال کړو


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

او بې له مصلحته جاري نه شي وکړئ پام          (فهم اصل)
جوړ يې که ګدام
مصلحت يې وکه ياره          راټول شو په تلواره
کابل تر کندهاره
انګرېز سوله بنا کړه          د سولې تمنا کړه
تالا يې خزانه کړه
ور (يې) کړې سردار محمديعقوب له مرغلرې
راجمعه شوې لښکرې
په بېرته شه راستون          له کابله شه بېرون
راته به په مضمون
خيبر نه شه راښکته          سر ببر په زړه چورنګ
په نيت باندې د جنګ
يو پاتې کمنرى شه          اجل واخيست تېرى شه
په هغه ځاى ډېرى شه
که مړ شه په کابل کې          چيټئ يې لاړه تر لاهور
رواني شوې بالفور
چيټئ يې لاړله په ښکته          کمپنئ له يې مهلته
د جنګ له حقيقته
ليکلې پکې ډېره مدعا وه لږ کلام
جوړ يې که ګدام
د کابل خلکو فسات          په موړه وکه زيات
کمنري يې که ميرات
يو دى ورسره نور          جامونه يې نوش که د سفر
کمناري يې دى افسر
*          *          *
لوى دي که واړه دي          ځوانان دي که زاړه دي
چې هر څوک طلب خواره دي
خپل ځان دې کړي سنبال     وسلې دې واخلي په دا رنګ
په نېت باندې د جنګ
سواره دي او که پلي          روان دې شي ټوغلي
کابل ته دې وزغلي
په ځاى د کمنري دې          سمدستي پورې که اور
رواني شوې بالفور
راپېټ يې که جرنيل          کابل ته شه په ميل
په زړه باندې غلبېل
د ورځې به يې منزل کړ          او ډېره به شه ماښام
که جوړ يې که ګودام
منزل په منزل تټه          خپل ځان به يې ساتته
کابل ته شه د ننه
ډېره شه په ميدان کې          ورسره ړ لوى لښکر
کمنري يې دى افسر
*          *          *
کابل کې چې داخل شه          مقصود د ده حاصل شه
له سردار سره واصل شه
راغى سلامي محمديعقوب، وله له لرې
را جمعه شوې لښکرې
يعقوب يې بنديوان که          په ښکته يې روان که
وطن يې هندوستان که
خبر ترې نه څوک نه دي          چې شراب خوري او که بنګ



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارئ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

په نیت باندي د جنګ
غازي محمدجانخان راتول یي کړل غازیان
راته په سپین میدان
را پټ یي در په در که وارخطا ګډ شه په شور
رواني شوې بالفور
راپټ چي په دې پوه شه چي لښکر د امیر لوی شه
هر ځای کي های و هوی شه
محمدجانخان ته یي ووې ته مي مولا زه دې غلام
که جوړ یي که ګودام
محمدجانخان پري ګوتي پوري کړي ځړی یي ترې سرتوري کړي
* * *

خدای دې بری ورکړي چي دښمن که زېر زبر
کمنري یي دی افسر
* * *

جنګونه وکړه ډېر کابل کي تېروبېر
د توپو د شمشېر
که څوک پکي ماړه شوه چاته پاتي شوې تېري
را جمعه شوې لښکرې
کابل یي چي وزګار که غزني ته یي رفتار که
ګوره وو که کاله وو ټول یي کړه په وینو رنګ
په نیت باندي د جنګ
غزنین نه بیا بهر شه په نیت د کندهار شه
ښکاره لکه د نمر شه
یو څو ورځي دېره ړ بیا یي د جنګ وغړاوه دور
رواني شوې بالفور
ایوب خان محمدجان دواړه دېره وو په اوجاړه
په جنګ کي وو همغاړه
ټول ملک په وینو سور شه پاتي نه شه ځای د ګام
جوړ یي که ګودام
چي دوی دواړو وکړه فتحه ما یي زر وکړه مدحه
شاعره مه کړه قدحه
نامه مي عبدالله دی د منان خان یمه نوکر
کمنري یي دی افسر
[څلورمه چاربیته]
فرنګی کښناسته کابل کي ډېر عالم طوفان شه
سردار یي ونیوه په چل کي کور د امیر وران شه
* * *

فرنګي ډېر ورکه دولت ورغی په کور
امیر ته نه شه ملامت، ته بې و نور زور
تېنه یي خراب که سلطنت هلته کر و کور شه
یعقوب یي تینګ ونیو بغل کي ورو ورته ګویان شه
* * *

چي یعقوب خان له بنده خلاص شه کښېناست په تخت
مور میمني ته څو فرزنده دا مهم دی سخت
کي بار کړئ نا پرسنده ځم په دا ساعت
شېرعلي پوه ړ په اول کي خود غلی روان شه
* * *

شېرعلي ډېر په واویلو کي لاړو میمني ته
مال دولت یي ټول تالا شه ګوره یي خپلخانی ته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

له غمه مړ شه سر بالا ړ غوړ کښېږده يې معنی ته
دده ليکلي په ازل کي خود علی روان شه
* * *

شېرعلي ډېر په واويلو کي لاړو ميمني ته
مال دولت يې ټول تالاشه کوره يې خپلخانې ته
له غمه مړشه سر بالا ړ غوړ کښېږده يې معني ته
دده ليکلي په ازل کي خود علی روان شه
* * *

په نصيب کښلي نه نوريږي واوره زما جانه
يعقوب چې ورغی نسکير دا واوره له مانه
پيرنګو ټينګ ونيو د سنګير هلته شه پښېمانه
د کمناري په سخت بدل کي اوس ښکته بنديوان شه
* * *

د کمناري ظالم بدل کي خان محمديعقوب
کابل مي وليده لتاړ و يجاړ شه په ستركو خوب
بخوا ډيلی ښکته لتاړ ړ پوه شه په مطلوب
په هر غزل ستا بې ارزي ده پېښ درته نقصان شه
* * *

بې عرضه ورځ د سردارانو ډېر دي پکي تنګ
تېښته عادت ده د خوارانو نه کوي نور جنګ
په لاره ځي د مشرانو واړه دي بې ننګ
محمد جانخان غازي غوبل کي ودرېده نښان
* * *

محمدجانخان غازي عجب ړ ټينګ شه ددوی زور ته
کفارو بيا مونده ادب بيا به نه ځي پورته
مقصوده ژاړه روز و شب، ځه د مکې لور ته
په عبثاتو دې ځان غل که عمر دې تاوان شه!
[پنځم سپره بدله د کابل د جنګ]
تل کړي جنګ، نه کړي ځنګ، څه عجب دی ځوان
خوري غورځنګ، په فرنګ نوم يې محمدجان
که راغی له لندنه د کابل په نيت
لوی توفنګ، درنګ په درنګ ولي هر زمان
که جنګ د مومنانو د نبي په دين
وکړئ ننګ، کړئ بدرنګ واړه کافران
که ځای د کافرانو په سفر کي دی
لوی ګړنګ، قبر تنګ سوځي په نيران
که دغه مرتبه د شهيدانو ده
د ګل په رنګ، په پالنګ ناست د جنان
که ځي به محمد ينه ته له دی دنيا نه
ووهه لنګ، شه ملنګ په درکي د سبحان
[شپږم- د محمدجان د قتل چاربيته]
محمدجانخان غازي شهيد له دنيا تېر شه نه
مړ که امير، په ټکی ګېر شه نه
* * *

محمد جانخان چې د امير سره نوکر شه نه
واړه عالم په دا خبر شه نه
توپچي باشي او توريالی د جنګ افسر شه نه
پروت په ډکه ټينګ په خيبر شه نه
جنګ يې بنا کړی کمناري پرې زورور شه نه


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

بر په توره کم يي لښکر شه نه
اسلام تري لاړ چپاو د کفر تري چاپير شه
مړ که امير په ټکی ګبر شه
* * *

پيرنګی لاړ په جګدلي ورته ډېره شه نه
حال د وطن ورته ښکاره شه نه
د ټکی ډاګ يي چلاوه آخر ښکاره شه نه
ډېر ړ کابل زړه يي کره شه نه
چي څوک مومن ړ، هغه ټول په تراره شه نه
لاړو اسلام ذره-ذره شه نه
لافي وهلي کمناري لاس په شمشېر شه (نه)
مړ که امير په ټکی ګبر شه نه
* * *

چي کمناري (يي) کړ مردار دوی يي زهير شو نه
هلته کي دوی د ځان په وير شونه
لاټ – جنګي اووار بټن ته دامنګير شو نه
ښېرته زخمي د ملا په تير شونه
جنګي ملکي لاټ ِ حکمي په دا تقرير شونه
وې کړه جلسه خوښ په امير شونه
محمد يعقوب يي کړ بندي وطن (يي) هېر شه (نه)
مړ که امير په ټکی ګير شه (نه)
* * *

ځان يي راخلاص که په مړ دی نوم (يي) بلند شه نه
په هر طرف ځکه څرګند شه نه
د جنګ ملګری (يي) دورانی، غلجی، مومند شه نه
ګفت ړ د پير کار يي پيوند شه نه
دده له لاسه د کافرو خراب ژوند شه نه
نيت يي غزا سور په سمند شه نه
ددين په کار کي ګرځېده ښورښت يي ډېر شه (نه)
مړ که امير په ټکی ګبر شه (نه)
* * *

لښکر راغلی د اردولړ په کلا باندي
عرض يي وکړ يعقوب سردار باندي
زمونږ ماجب دی پاتي شوی ستا په پلار باندې
غواړو يي مونږ زر په تلوار باندې
يعقوب خان وکړو سخت پېغور ورته په قار باندي
شيلک يي وکړ کمنري کفار باندې
جاندي غازي د توري وړی پکي سېر شه (نه)
مړ که امير په ټکی ګبر شه (نه)
* * *

محمدجانخان چي توره وکړه په اول باندې
عرض يي وکړ په پردی، خېل باندي
عبدالرحمن سردار چي کښېناست په کابل باندي
ورک شه باور اوس يو پر بل باندې
هر دم چپاو که مير بچه او باچا ګل باندي
وژني غازيان ډېر په زلزل باندي
زه غريبی په زړه زخمي جاري مي شېر شه (نه)
مړ که امير په ټکی، ګبر شه (نه)
( غريبی، ساکن بټي کوټ علاقهء ننګرهار)

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې ښې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولـئ

**[اووم- ددې جنګ یوه بله چاربیته]**
رحمت دې وي یارانو په غازي محمدجانخان
یو دی ړ له مردانو
ولاړ لکه زمری ړ پیرنګي ته په میدان
قاتل د کافرانو
*            *            *
غازي محمدجانخان دښمني کړه د پیرنګیانو
د ګبر او سکهانو
بې شانه یې مردار کړه ټول خوراک شوه د سګانو
بوی ته د مردارانو
ولاړ تماشا بین ړ په سیل د منافقانو
غوړ باسئ مرمنانو
پرې ډک شوه خندکونه پراته وو لکه یران
اختر شو په زاغانو
*            *            *
خبره کمپنی شوه په لندن کې شوه زهیره
له غمه شوه تغییره
راپورته یې لښکر کړ په غصه هغه کسپیره
دولت لري کافره
نوکر یې مسلمان دی تو لعنت یې شه په ږیره
بدتر دی له خنزیره
نوکر د پیرنګي دی هغه نه لري ایمان
اپوټه مسلمانان وو
*            *            *
نوکر د پیرنګي دی مسلمان نه دی له سره
بدتر به وي له خره
پروت به وي په اور کې دی به سوزي مکرره
دو چنده له کافره
له قاره به خدای وکاندي په دوی باندي باران
لړم او د مارانو
*            *            *
غازي دی هم شهید دی له دغسي رنګ ثوابه
زه یې وایم له دې بابه
بس کړه ای بنګي سندرې مه وایه بې حجابه
آخر به شي خرابه
تکیه مي ده په خدای خیر غواړم له سبحانه
سره د شاګردانو
**[اتم- لوبه د کابل د جنګ]**
دا د کابل په میدانونه
انګرېز تمام شو د دامان ګیدړ یې خورینه
*            *            *
دا د کابل جینکۍ داسي لوبي وایي
غزا راغلي ده په کور، راسره ښایي
دا موږ به هم ورپسي ځو که رب مو بیایي
د انګرېزانو نه به ږیرې شوکوونه
*            *            *
دا د کابل جینکۍ تل غرږوي تاړي
انګرېز په کونه کي به ومنډو سوباړي
دا ځوک پرې مړ شوه، د چا توري واخیسته غوباړي


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لکه د وریو په ټکو وخورو ترې مالونه
* * *

د کلکتې نه کاغذ راغی په تلوار
کابل آباد دی مورِه ټول شوو تار په تار
بعضو خو ورکړل په ډېلو ایمانونه
* * *

چې زور یې ولید پیرنګې وکړله سوله
دنیا ترې وخوړِه د شګې په شان ټوله
محمدجانخان قوت یې زیات تر استانبوله
ځکه باچا اخوند یې وکړل صفتونه
* * *

**[نهم- د کابل د جنګ یوه بله چاربیته]**

صد رحمت په محمدجان کړې غزا یې کړه اختیار
ورنصیب حورې غلمان کړې کړم یې کړه کفار
* * *

د کفارو لښکر بهیرې جمرود او تر کابله
په ملک تور غبار لټیرې پېښور یې کړی زهیر
امیریعقوب وېرېرې نه کوي غزا
د دین په ننګه پوهیرې قسمت یې هواګیر
په حیله یې کړه بندي توفیق یې نه لیدای په ځان کې
تقدیر کړ بې اختیار
* * *

تقدیر د پاک سبحان شه امیریعقوب بندی د هندوستان په لور روان شه
له تخته د کابل
پښتانه واړه حیران شه په مخ کې یې مشک عالم اخوند غازی او محمدجان شه
د الله په توکل
ورغله غزني ښخه سلګونه په میدان کې
غازیان هزار-هزار
* * *

غازیان هزار هزار شه لښکر د فرنګ لواړه له شیرګړ ښخه تیار شه
و راغله په چمن
د توپو تور غبار شه اورو په شان فوجونه دی سېروسره کتار شه
سور اور یې کړه وطن
ځلیرې سنګیان لکه تندره په اسمان کې
ګولی یې ږلی وار
* * *

د ګولو باران وریرې غازیان لکه زمري تورې وهي ور وراندې کیرې
ور مات یې کړ آیین
د ګوریان سرې کیرې په سرو منګولو ګرځي پښتان بازان پاتیرې
میدان یې کړ رنګین
برابر ورځي په توپو آفرین یې په ایمان کړی

پښتانه دي توریدار
* * * * * * *

پښتانه توری داران دي حملې که په کمترو د کفارو شهینان دي
کوي ننګه د دین
لواړه تمبل بازان دي د توری اوازې یې شام و روم و تر ایران دي
لندنه او تر چین


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ستاره د محمدجان کړه خدای بلنده په جهان کې
ډېلي تر کندهار
*  *  *
ډېلي په کندهار کې د توري سیال دې نشته په هېڅ ملک، په هېڅ دیار کې
په سر د محمدجان
مصطفی ددین په لیار کې ظفر یې مصطفی غوندې رب اېښی ذوالفقار کې
پې وژني غلیمان
هېڅ صفت یې نه راځي حافظ عظیم په توان کې
الله دې کړي نامدار


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ